مسئووليت متن و شکل بدوش نويسندۀ مضمون ميباشد، عقيدۀ نويسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاين نمی باشد.

نجيب منلی
۲۰۱۸/۱۲/۲۲

# د عبدالغفور لېوال «پينځه منظومې»




د پينځو کتابونو يو ځای کول د شرقي فرهنګ يوه زړه عنعنه ده. «پنج کتاب» زموږ د سنتي نصاب په بنسټيزو درسي کتابونو کې يادېږي، «پانچهه تانترا» د هندي ادب شهکار دی (چې موږ يې د کليله او دمنه په نامه پېژنو)، نظامي، امير خسرو دهلوي او ګڼو نورو هم خپل اثار په پينځګوني ترکيب تنظيم کړي او نوم يې ورته «خمسه» ايښي (خمسۀ نظامی، خمسۀ امير خسرو، خمسۀ هاتفی جامی...) او په غربي کتابپوهنه کې هم د پنتالوجي (Pentalogy) بڼه يوه پېژندل شوې شيوه ده.

د معاصرې پښتو پياوړي او نامتو شاعر استاد عبدالغفور لېوال هم په دې وروستيو کې خپلې پينځه منظومې په يو جلد کې را ټولې کړې دي، د بهير مطبعي په تخنيکي همکارۍ يې په ښکلي قطع او صحافت (وزيري قطع) چاپ کړې دی. په دې مجموعه کې د ښاغلي لېوال پينځه سترې منظومې (هوسی، ارشاک او اوشاس، لام او ايلينو، ګک او زرينه، سلطان) راټولې شوې دي. نوم يې هم ورته په ډېر ساده ډول «پينځه منظومې» ايښی دی. ما ورته په شوخۍ وويل کاش «خمسۀ غفوري» دې بللې وای.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ولسمشر محمد اشرف غني پر کتاب یو یادښت کښلی چې په کې یې د ښاغلي لېوال دا منظومې «د پښتو ادب په تاریخ کې د عطف یو ټکی» بللې چې هره یوه یې «له دې وطن سره د مینې یوه حماسه» ده.
د لېوال پینځه منظومې هم، د لیکوال په ژوند، د هېواد د وروستي تاریخ له پینځو حساسو مرحلو سره تړلې دي، هم د افغانستان د اوږده تاریخ له پینځو مهمو دورو سره تړلې دي او هم د افغانستان د جغرافیې له پینځو سیمو سره تړلې دي:

- هوسی د ۱۳۷۰ لسیزې د بدبختیو په چاپېریال کې پنځول شوی د جنګونو روایت دی،
- ارشاک او اوشاس د کوشاني ستروا‌کمنی پر مهال د نیلاب پر څنډو د زړونو او د خاورې پیوند بیانوي،
- لام او ایلینو د ښکلي نورستان یوه دراماتیکه شیبه ده،
- کک او زرینه د هلمند پر لمن د هلمند د اوبو د ښکلي زنځیر د ساتلو یوه هڅه ده چې د پنځولو زمانه یې د هېواد پر اوبو د پردیو له دعوو سره هممهاله راغلې او
- سلطان د لوګر پر عرفان پرورې خاورې د دوزخ د اور د وژلو یوه هیله رابیانوي او د لیکلو وخت یې هم د هېواد د تاریخ داسې یوه شېبه ده چې د جنګ د لمبو د سړېدو هیله په کې سترګکونه وهي.

د لېوال روانه او خوږه ژبه هم د یادولو ده. لېوال له پښتو او له افغانیت سره مینه لري خو دا مینه، لکه دځینو نورو، په شعارډوله اعلامیو کې نه وایي، د ژبې به پستو څپو، خوږو تعبیرونو او د پېښو په طبیعي بهیر کې یې ځلوي. دا د کابل او لوګر سیندونو تر منځه، لوی شوی صاحبزاده یوازې د ښکلو د ارمانونو د پوره کولو په پار کوزړی نه ګرزوي، د ژوند د ښکلا له پاره او له داره د پرېیو د پرانستلو په خاطر د موزونو کلماتو او شرنګېدلو جملو جادویي مصله هم ورسره ده چې د زمان او مکان په کې رانغاړي.
زه ښاغلي لېوال ته نه، افغان ولس ته د دې پینځو منظومو د یوځای خپرېدو مبارکي وایم.

**په افغاني ادب کې د لا نوو او بریالیو تجربو په هیله!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ